د عبدالعلي رسول زاده لنډه پېژندنه

عبدالعلي رسول زاده په ۱۹۴۷ کال کي په کندهار کي سترګي نړۍ ته خلاصي کړي دي. لومړنۍ زدکړي ئې د کندهار په مشر قي ښوونځي کي او له هغه څخه وروسته ئې نوري زدکړي د کندهار د میرویس نیکه په لېسه کي تر سره کړي دي. لوړي زدکړي ئې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې په پوهنځي کي د ریاضي او فزیک په څانګه کي تر سره کړي دي. له پوهنځي څخه له فارغېدو وروسته د لسو کلونو له پاره د کندهار په عالي دارالمعلمین کي د استاد په توګه مقرر سو. په هیواد کي د نا خوالو له را منځته کېدو څخه وروسته په ۱۹۸۱ م کال کي سویډن ته مهاجر سو. په ۱۹۸۳ کال کي د سویډن په ښوونځي کي د کډوالو کوچنیانو او ځوانانو د پښتو او دري ژبو د ښوونکي په توګه مقرر شو. دغه تدریس په لومړي سر کي د افغان کډوالو کوچنیانو او ځوانانو ته د ښوونځي د مضامینو او سویډني ژبې د زدکړو مرسته او د سن له مخې وروسته د مورنیو ژبو تدریس وو.

په ۲۰۰۲ م کال کي د سویډن د پوهنې وزارت د نورو ژبو د انټرنیټي پاڼو تر څنګ دري او پښتو ژبو ته په دواړو یوه انټرنیټي پاڼه د temamodersmål په نامه ور کړه. د پښتو ژبې انټرنیټي پاڼې مسئول عبدالعلي رسول زاده ټاکل شو.

په ۲۰۰۴ م کال کي په ایرلنډ هیواد کي د اینټرنیټي پاڼو یوه سیالي را منځته شوه. په دغه سیالي کي د سویډن هیواد له خپلو دغو پاڼو سره چې د پښتو او دري په شمول ۲۸ پاڼې وې، هلته ګډون و کړ. له ښه مرغه د سویډن هیواد دغو پاڼو سیالي و ګټله، خو کله چې و کتله شوه د سویډن د ټولو ۲۸ پاڼو له جملې څخه پښتو او دري پاڼو له ۹۰ سلنې څخه زیات کتونکي لري ول.

له دې سره سم د پوهنې وزارت د دغو دوو پانو له مسئولو کسانو څخه مننه و کړه او له دې وروسته پښتو او دري دواړې هري یوې پانې د یوې یوې پانې ځای او امتیاز خپل کړ.

په ۲۰۱۴ م کال کې د سویډن د پوهنې د وزارت دغه پروژه نوره خلاصه شوه او نورې ټولې پانې له منځه ولاړلې، خو عبدالعلي رسول زاده خپله دغه د پښتو تدریسي پانه د www.pashto.se په نامه تر اوسه دپه تخ ښاغلي محمد شاه پیمان په تخنیکي همکاري د هیوادوالو له پاره فعاله ساتلې ده.

عبدالعلي رسول زاده اوس هم د تدریسي کتابو لیکلو، تعلیمي نصاب او آنلاین تدریسي کورسونو ته ادامه ور کړې ده.